## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# له ماشومانو سره په نا روښانه خبرو کې مرسته کول

1. **ماشوم چې څه وايي تاسو يې تکرار کړئ.**
که چیرته ماشوم کومه کلیمه ناسمه ویله، هغه ته یې بیرته ووایئ مګر د خبرو کولو له سم غږ څخه استفاده وکړئ.
دا ښیي چې تاسو پوهیږئ او ماشوم ته د هغې د سم ویلو لاره چاره ښيئ.

2. **له ماشوم څخه مه غواړئ چې کلیمې تکرار کړي.**
ماشومان باید د نویو غږونو په ازمایلو کې د ارامی او ډاډ احساس وکړي او خپلو خبرو ته بهبود ورکړي. پر تېروتنو تمرکز کول او ماشوم اړ ایستل چې کلیمې تکرار کړي، ګټور کار نه دی.

3. **د خپل ماشوم اعتماد جوړ کړئ** تر څو اړیکې ټینګې کړي
که چیرته تاسو د ماشوم د خبرو په یوه برخه پوه شوئ، تکرار یې کړئ تر څو هغه ته وښایاست چې هغه سم وايي او ویې هڅوئ تر څو خبرو ته دوام ورکړي.
له وسایلو څخه کار واخلئ لکه د کور ښوونځي کتاب او انځورونه تر څو د دې ګومان په کولو کې مرسته وکړئ چې ماشوم به څه وايي. که چیرته د ماشوم خبرې روښانه نه وي، دا مرسته کولای شي.

4. **داسې مه ښيي چې تاسو پوه شوئ**
لاندې موارد و ازمایئ:
   - پوښتنې کول.
   - د دې ویل چې "ما ته وښيه..." او ماشوم وهڅوئ تر څو شیانو ته اشاره وکړي.
   که نه پوهیږئ، ماشوم ته ووایاست.
   ارامونکې اوسئ او بیا د مثبتو شیانو په اړه خبرې وکړئ.

5. **ماشومان کیدای شي وکولای شي غږونه وباسي مګره هغه به په کلیماتو کې نه کاروي.**
دا عادي ده. د بېلګې په توګه، کېدای شي ماشوم ووايي 'س...' مګر sock ته 'tock' ووايي.
ماشوم باید زده کړي چې غږ څنګه په کلیماتو کې وکاروي، چې دا کار وخت اخلي.
تر ټولو غوره لار دا ده چې کلیمات په سمه توګه تکرار کړئ تر څو هغه یې سم غږونه واوري.
ځینې وخت کېدای شي د خبرو کولو درملنې ته اړتیا وي.